# په بن کې د افغانستان نړیوال کنفرانس

## د ۲۰۱۱ کال د دسمبر ۵ نېټه

## افغانستان او نړیواله ټولنه :

# له انتقاله د تحول ترلسیزې

## د کنفرانس پایلې

۱. موږ، د افغانستان اسلامي جمهوریت او نړیواله ټولنه، نن په بن کې سره راټول شوي یو چې د بن د کنفرانس لسمه کالیزه چې د افغانستان او نړیوالې ټولنې د اوسنۍ ملګرتیا بنسټ یې اېښی، ولمانځو؛ او د افغانستان د خلکو د باثباته او غوړیدلی ارمان پروړاندې خپلې ګډې وعدې بیا تازه کړو. موږ له هغو افغانانو او نړیوالو مننه کوو چې ددغه سپېڅلی ارمان په لاره کې یې خپل ژوند قربان کړی دی. افغانستان

له هغو رښتینو ژمنو، پیوستون او دغه راز له هغو سرښندنو نه هم مننه کوي چې د هغو نړیوالو ملګرو ورکړې دي.

۲. افغانستان او نړیواله ټولنه،دالمان له فدرال جمهوریت نه، ددې کنفرانس د کوربه توب له امله د زړه له کومې مننه کوي.المان دافغانستان دخلکو پخوانی ملګری و په تیرو لسو کلنو کې، دنړیوالې ټولنې له نورو غړو سره د افغانستان د ثبات او پرمختګ په لاره کې ثابت قدمه شریک و.

۳. په پیترزبرګ کې له جوړ شوي کنفرانس څخه لس کاله وروسته چې افغانستان په هغه کې د خپلواکې راتلونکې، ځان بسیاینې او ولسواکۍ، نوې لاره غوره کړه او په دې لاره کې نړیوالې ټولنې افغانستان ته د مرستې مسوولیت ومانه، څنګ ، په څنګ مو په دې تېرو لسو کلونو کې داسې مهم بریالیتوبونه تر لاسه کړي دي،چې د افغانستان دتاریخ له یوه پخواني پړاو سره د پرتلې وړ نه دي . له دې نه پخوا هیڅکله د افغانستان خلکو،په ځانګړې توګه افغان ښځو، په دې کچه د ښوونې روزنې او روغتیایي برخو کې امکانات نه لرل اوپه ټول هېواد کې یې د بنسټیزو جوړښتونو داسې پرمختګ لیدلی نه وو. القاعده ضعیفه شوې ده او د افغانستان ملي امنیتي جوړښتونو ،په زیاتیدونکي ډول، دیوه سوله ایز او خپلواک افغانستان د بشپړ مسوولیت د منلو توان پیدا کړی دی.

۴. له دی سره بیا هم زموږ کار پای ته نه دی رسېدلی. باید نیمګړتیاوو ته پاملرنه او د لاس ته راوړنو ساتنه و شي. زموږ ګډه موخه لېترلېږه داسې افغانستان دی، چې دټولو افغاناونولپاره سوله ایزه او له هیلو ډکه خونه او د روغې او پرمختګ د سیمې مرکز وي. هغه افغانستان چې بیا د نړیوالې ترهګرۍ ځاله نه وي او د خپلواکو ملتونو په منځ کې خپل غوره ځاي پیدا کړي.

۵. په دغه کنفرانس کی چې د افغانستان په مشرۍ او د المان په کوربه توب او د وزیرانو په کچه د ) د ۸۵ هېوادونو او ۱۵ سیمه ایزو او نړیوالو سازمانونو په ګډون جوړشوی،افغانستان او نړیوالې ټولنې په رسمي توګه موافقه وکړه چې خپله تاریخي ملګرتیا له له انتقاله د تحول تر لسیزې پورې (2015–2024 ) لا ژوره او پرمختللې کړي. د رسمي ژمنو په بیا تایید سره او یا هماغه شان چې د لندن د ۲۰۱۰ کال په اعلامیې او د کابل په بهیر کې ټاکل شوي دي،،د افغانستان او نړیوالې ټولنې ترمنځ دغه تجدید شوی مشارکت ، په ټولو او له هغه ډلې نه د حکومت داری ، امنیت،اقتصادي ودې او د سیمه ایزو همکاریو په برخه کې د ملګرتیا د دوام سبب شي.

## حکومت داري

۶.افغانستان یو ځل بیا اعلانوي، چې دهغه راتلونکي سیاسي جوړښت به لږ تر لږه پر سیاسي پلورالیزم او کلکه د افغانستان پر اساسي قانون ولاړ وي. افغانان به ، د قانون حاکمیت د اصل پر بنسټ ولاړې د یوې

ديموکراتيکې او با ثباتې ټولنې رامنځ ته کولوته ، چېرته چې دهغه د وګړو اساسي حقوق او بنسټيزې ازادۍ او له هغه ډلې نه د ښځو او نارينه وو هر اړخيزه برابري،هغه ازادي چې اساسي قانون تضمين کړې ده ، دوام ورکړي. افغانستان يو ځل بيا د بشري نړيوالو حقوقو پر وړاندې، نړيوالو مسووليتونو ته خپله ژمنتيا اعلانوي ، خو دې ټکي ته په پام سره چې په دې برخه کې به افغانستان خپل ځانګړي درسونه زده کوي ، نړيوالې ټولنې دغه تګلاره په بشپړه توګه تاييد کړې ده او ژمنه کوي چې په دې لاره کې د افغانستان د پرمختګ ملاتړ کوي.

۷. موږ ، د افغانستان د مدني ټولنود استازو او له هغه ډلې نه د هغو د دووتنوو ويناوې يا داشت کړې . موږ ټول په دې موافق يو چې د افغانستان په اساسي قانون کې د بشري اساسي حقونو راغلې مواد او له هغه ډلې نه د ښځو او ماشومانو د ودې په حال کې د مدني ټولنو حقوق، دافغانستان د راتلونکې جوړښت بنسټ جوړوي ؛ نو له همدې کبله ، موږ د هيواد په ديموکراتيکو بهيرونو کې د مدني ټولنې د ونډې د لا زياتوالي ،د مدني دوديزې او نوي رامنځ ته شوې هغې په ګډون او له هغه ډلې نه د ځوانانو په برخې ټينګار کوو.

۸. موږ دا څرګندوو،چې د يوې ديموکراتيکې ټولنې رامنځ ته کول ، له هر څه د مخه ، د منتخب حکومت ،هغه ملي مدني اغيزمن ګټور کار پورې اړه پيدا کوي چې خدمات يې د شفافو ، قوي او اغيزمنو ټولنو او سازمانونو په کړو کې نغښتل شوی وي. د پام وړ لاس ته راوړنو او برياوو سره سره افغانستان دې ته اړتيا لري چې د دولتي ادارو د لا پياوړتيا او ښې حکومت دارۍ او له هغه ډلې نه د امنيتي بنسټونو اصلاح لپاره چې په هغه کې د پوليسو اغيزمن ځواکونه هم راځي، کار ته دوام ورکړي. د افغانستان د ټاکنو دبهير تقويت او پياوړتيا ، د هيواد د ديموکراتيک کولو د بهير په لور يو غوره ګام دی. د افغانستان حکومتي جوړښتونه ،بايد په ټوله کچه، د افغانستان دخلکو له مدني او اقتصادي اړتياوو سره ،د خپل مسووليت مننه زياته او خلکو ته بنسټيز خدمتونه وړاندې کړي. په دې برخه کې لا تر اوسه هم له اولسي خلکو دفاع، د قانون د ټينګښت او په حکومتي ادارو، دغه راز په نړيوالو مرسته رسوونکو هيوادونو کې د اداري فساد پر وړاندې مبارزه لومړی او اساسي ځای لري. موږ ، دغه مساله د کابل د بهير د ژمنو له مخې او د متقابل حساب د ورکړې پر بنسټ مخ ته بيايوو.

۹. د ليږد سره په تناسب کې، يو ځل بيا موږ تاييدو، چې د نړيوالو لوبغاړو هغه ونډه به چې، د ظرفيت جوړونې په برخه کې يې د افغانستان له اداري بنسټونو سره لري، داسې چې د افغانستان حکومت وکولای شي خپل بشپړ واک تر سره کړي، ور ولېږدول شي. په دغه بهير کې به د ولاياتو د بيا رغونې د ټولو ډلو کمول اود هر هغه جوړښت لغو کول هم شامل وي،چې د افغانستان له ادارو سره په سيمه ايزې او ملي کچه موازي دندې ولري.

۱۰.موږ، په افغانستان کې د ملګرو ملتو د ډيرې مهمې ونډې ملاتړ کوو. موږ د ملګرو ملتو له ځانګړي استازي ښاغلي ستيفن دې ميستورا څخه دهغه د ښو خدمتونو له امله مننه څرګندوو، دملګرو ملتو د سرمنشي دهغې پريکړې هرکلي کوو چې ښاغلی يان کوبيش، يې د افغانستان لپاره

خپل نوی ځانگړی استازی نومولی دی. موږ، دا یادونه کوو چې د افغانستان لپاره دې ، د یوناما پر ماموریت، د ظرفیتونو له زیاتوالي او د افغانستان د مالکیت او د لیږد، له بهیر سره متناسب به، چې په هغه کې به د افغانستان حکومت مسوولیت په غاړه اخلي،بیا کتنه کیږي. موږ . دغه راز د افغانستان له حکومت سره د نړیوال تماس دډلي له نیږدې ملگرتیا په خورا درناوي یادونه کوو او دغه ډله د گډو هڅو دوام ته هڅوو.

## امنیت

١١. موږ د ترهگری پر وړاندې په مبارزه او د خپلې خاورې او امنیت د ساتنې د مسوولیت په خپله اخیستنې کې د افغانستان د خلکو د پریکړې هرکلی کوو. موږ ځان د افغانستان له خلکو سره دهغوی په دې نظر کې، ملگري گڼو، چې داسې امنیتي قوتونه جوړکړي چې په ننیو معیارونو برابر، د بشپړ تخصص لرونکي او د خپل هیواد د اغیزمنې ساتنې توان ولري .

١٢. موږ، د لیږد ،د بهیر د بریالي پیل هرکلی کوو. د افغانستان حکومت د خپل هېواد د بشپړ امنیت مسوولیت منې او دا بهیر د ٢٠١۴ کال تر آخره پای ته رسیږي. د دې سره هم مهاله د امنیتي همکاریو نړیوالو ځواکونه (آیساف) چې د ملگرو ملتو د امنیت شورا له خوا یې دنده اخیستې او خپل تدریجي او مسوولانه وتل یې پیل او تر ټاکلې مودې به پای ته ورسیږي. د لیږد د بهیر په پاي ته رسیدو سره به ، د افغانستان د راتلونکې پر وړاندې زموږ گډ مسوولیت پای ته نه رسیږي . نړیواله ټولنه له همدې امله ژمنه کوي ، چې تر ٢٠١۴ کاله وروسته ،له افغانستان سره خپل ټینگ ملاتړ ته دوام ورکړي.

١٣. موږ ، ټینگار کوو چې تر ٢٠١۴ کال وروسته، د افغانستان ملي امنیتي ځواکونه نړیوال ملاتړ دوام ته اړتیا لري. د افغانستان له ملي امنتی ځواکونو سره د ملاتړ په منظور، نړیواله ټولنه دا ژمنه کوي چې د لیږد د بهیر تر پای ته رسیدو وروسته به د دغو ځواکونو په روزنه، تجیهزولو او د توانمندیو په زیاتېدو کې خپلو مرستو ته دوام ورکوي . نړیواله ټولنه ، د افغانستان ملي امنیتي ځواکونو ته د تمویل په چارو کې خپلو مرستو ته، دې ټکي ته په پام سره دوام ورکوي چې ددغو مرستو اندازه به تر لیږده وروسته، د افغانستان د اړتیاوو په تناسب او دداخلي عوایدو د راټولولو د ظریفت د زیاتوالي سره جوخت، کرار کرار کمیږي.موږ په دې برخه کې د افغانستان دملي امنیتي ځواکونو لپاره د یوځرگند نظر او غوره تگلارې ټاکنې ته سترگې په لاره یو، چې د ٢٠١٢ کال د مې په میاشت کې، په شیکاگو کې د ناټو د سر مشرانو تر غونډې مخکې تدوین شي.

١۴. موږ ، دا څرگندوو چې دافغانستان اهمیت او ثبات ته تر ټولو مهم گواښ ترهگري ده، چې نړیواله سوله او امنیت هم له گواښ سره مخامخ کوي. په دې برخه کې موږ دترهگری او تندلاری سیمه ایزو اړخونو ،له هغه ډلې نه د ترهگرو پناه ځایونه ته په پام سره ،دیوه سوله ایز

افغانستان دجوړولو او د ترهګری له ګواښ دخپل ګډ امنیت او ساتنې لپاره دسیمې په کچه د رښتینې او عملي همکاری پر اړتیا ټینګار کوو.موږ یو ځل بیا خپل هوډ او ګډه اراده اعلانووچې هیڅکله به اجازه نه ورکړوچې افغانستان دې بیا د نړیوالې ترهګری لپاره د پټیدو پر ځای بدل شي.

۱۵. دمخدرو توکوتولید، قاچاق او مصرف په یوه اندازه ، د افغانستان امنیت، یوه مشروع اقتصادي ودې او هم دنړیوالې سولې او ثبات ته جدي ګواښ دی. افغانستان او نړیواله ټولنه،د خپلو ګډو مسوولیتونو په څرګندولو ، افغانستان او نړیوالې ټولنې ته په منلو لارو چارو،پر خپلې دې ارادې ټینګار کوو، چې د نشه يي توکو د تولید، قاچاق، د بدیل کښتونو هڅول او غیر قانوني مصرف د ګواښ پر وړاندې چې د پراخو تاوانونو او رنځونو لامل ګرځي، ودرېږو. موږ دا څرګندوو چې د مخدرو توکو ستونزه ، یو نړیوال ګواښ دی چې د تقاضا له اړخ سره یې هم مبارزې ته اړتیا شته.

## د سولې بهیر

۱۶. موږ،په افغانستان کې سولې او ثبات ته د رسیدو لپاره، د یوې،سیاسي حل لارې پر اړتیا ټینګار کوو. یوه پایداره ثبات ته له ځانه د د فاع د ظرفیت د لوړولو تر څنګ، داسي یوې سیاسي حل لارې ته د رسیدو لپاره، اړتیا شته چې خبرې اترې او روغه جوړه يې اساسي برخې وي. ددې تر څنګ مجدد ادغام ، تر جګړې وروسته د افغانستان د ټولنې د بیا احیا لپاره، د امنیت ښه کول ، د ټولنیزو او محلي ادارو ودې ته لار آواروي.

۱۷. موږ د افغانستان د پخواني جمهور رئیس، د سولې دعالی شورا د مشر، پروفیسوربرهان الدین رباني وژنه په کلکه غندو.نو له دې کبله نړیواله ټولنه د افغانستان د حکومت د هغو زړورو هڅو چې د افغانانو په مشری، او له هغه ډلې نه د سولې د عالي شورا او د سولې دتګلارې له خوا د بیا پخلاینې او بیا ادغام د بهیر لپاره کېږي، هرکلی کوي.موږ دغه راز د لویې مشورتي جرګې له لارښوونو چې د ۲۰۱۱ کال د نوامبر د ۱۶-۱۹ یې دوام درلود او د سولې بهیر ته يې نوی لمسون او خوځښت ورکړ ، هرکلی او ملاتړ کوو.

۱۸. د ملګرو ملتونو د امنیت شورا د اړوندو پریکړو په نظر کی نیولو سره، نړیواله ټولنه د افغانستان سره موافقه لري چې د سولې او روغې جوړې بهیر او دهغه پایلې باید په اصولو ولاړې وي:

الف: د روغې جوړې خواته د سولې بهیر باید:

- دافغانانو په رښتني مشری او مالکیت تر سره شي؛
- عمومي وي او دافغانستان د ټولو خلکو ، جنسیتونو او ټولنیز دریځه ته د نه پام له مخې، د مشروعو ګټو څرګندوي وي.

ب: مصالحه کې باید لاندې ټکي شامل وي:

- د افغانستان د ملي حاکمیت بیا تایید،خپلواکي او بشپړتیا؛
- د زور زیاتي غندنه؛
- له نړیوالي ترهګرۍ سره د اړیکو پرېکون؛
- د افغانستان داساسي قانون او له هغې ډلې دبشري حقوقو مواد او په تیره بیا دښځو دحقوقو درناوي وکړي.

ج: د سیمې هیوادونه دغه بهیر ته درناوي ولري او دهغو د پایلو ملاتړ وکړي.

د سولې هر هغه بهیر، چې یادو شویو ټکو ته په پام سره وي، دنړیوالې ټولنې بشپړ ملاتړ به ولري.

## اقتصادي او ټولنیز پرمختګ

۱۹. نړیواله ټولنه د بشري او معدني منابعو د ودې له لارې، پر ځان بسیاینې، او آرامۍ ته درسېدو، پرله پسې او متوازنې ودې ته د لارې موندلو او د ژوند د معیارونو په لوړولو کې له افغانستان سره همغږې ده. د ثبات راوړلو په ستراتیژۍ او د پرمختګ د اوږد مهالې ملګرتیا په برخه کې نړیواله ټولنه،له افغانستان سره، د قانون د حاکمیت، د عامه اداري خدماتو، ښوونې او روزنې، روغتیا، کرنې، انرژۍ او نورو اړتیاوو ته په پام سره په ځانګړو بنستیزو برخوکې، چې د کابل په بهیر کې په ملي کچه د افغانستان دولت له خوا دکابل په بهیر کې غوره او لومړي ګڼل شوي، ملاتړ کوي.

۲۰. په داسې حال کې چې د افغانستان حکومت خپل لومړیتوبونه ټاکي،اصلاحات عملي او د خپلوکابل د ژمنو او دهغه له ډلې نه دعامه مالي اداري تقویت، او دبودجې د اجرا دظرفیتونو لا ښه کول سرته رسوي او ملګري یې ژمنې تازه کوي، چې په هماغه اندازه چې د افغانستان حکومت خپلې د کابل د بهیر ژمنې عملي کوي، دهغه نړیوال ملګري به په هماغه شان چې په لندن او کابل کې موافقه شوې ده، د افغانستان ضروري اړتیاوو ته په پام سره به زیاتې نړیوالې مرستې دې دغه هېواد ته تخصیص او د پرمختیایي مرستو زیاتره برخه د افغانستان د بودجې له لارې وي. موږ د جاپان دحکومت د هغې پریکړې هرکلی کوو،چې غواړي د افغانستان په اړه کنفرانس د وزیرانو په کچه د ۲۰۱۲ کال د جولای په میاشت کې په توکیو کې جوړ کړي او په هغه کې به د افغانستان د ودې پر پایدارې ستراتیژۍ او له هغې ډلې نه د مرستو پر ګټورتوب، د راتلونکو کلو لپاره د مرستو پرهم غږۍ، او دسیمې پر اقتصادي همکارۍ خبرې کیږي.

۲۱. دلیږد د بهیر د پرمختګ د پیاوړتیا سره، موږ د نړیوال بانک او دپیسو د نړیوال صندوق ،له خوا د اقتصادي ګواښ پیدایښت د اټکل او له هغه ډلې نه دنړیوالې ټولنې د پوځي حضور له کمښته پر راپیدا کیدونکي ګواښ پوهیږو، نو تکل لرو چې ددغه ناوړه اغیز د مخنیوي لپاره د کابل دبهیر دپریکړو سره سم اغیزمنې مرستې زیاتې کړو. موږ ، نړیواله ټولنه ځان د افغانستان په هغه اندیښنه کې شریک ګڼو،

چې دلېږد د لنډ مهاله اغیزو د حل ستراتیژي باید، په افغانستان کې د ازاد بازار پر اصل ولاړ دیوه پایداره اقتصاد وروستي هدف ته هم لاره اواره کړي .

۲۲. په افغانستان کې نړیوالې هر اړخیزې هڅې ،په وروستي لسیزه کې یو بې ساري هوډ دی. د نړیوالې ټولنې او افغانستان ژمنې او په نړیوال امنیت کې دهغو ونډه د انتقال له بهیره لا لوړ او وړاندې تیریږي. د لیږد بهیر، نړیوال حضور او هغه پورې اړوند مالي اړتیاوې را کموي. موږ دا څرګندوو چې د افغانستان حکومت به تر انتقاله وروسته کلونو کې،ځانګړې، د پام وړ او دوامداره اړتیاوې ولري چې د افغانستان د کورني عاید له پلوه بسیا کیدای نه شي. نو له دې کبله نړیواله ټولنه ژمنه کوي چې د د تحول په لسیزه کې، دکابل د بهیر سره سم، د افغانستان داقتصادي ودې، د هغه د امنیت دساتنې پورې اړوند لګښت، دوروستیو کلنو د لاس ته راوړنو د ساتنې او د متداومې بودجوي کسر د رفعه کولو ، د لیږد د بهیر د پوره بریالیتوب او د افغانستان د ځان بسیا کیدلو په هدف، افغانستان ته مالي ملاتړ وړاندې کړي.

۲۳. د افغانستان اوږد مهال اقتصادي پرمختګ، له بل هرڅه نه د هغه دتولیدي سکتور په تیره بیا کرنې او کانونو پورې اړه لري. نړیواله ټولنه د کرنیز اقتصاد دملاتړ ، هغه چې غذایي امنیت، فقر کمول، په کرنه کې د کار پیداکولو په برخه او د حکومت د عایداتو راټولول تضمینوي او دهغه په وړاندې ځان هوډمنه ګڼي. د کانونو په برخه کې موږ د افغانستان په ملي شتمنیو کې د نړیوالو د پانګه اچولو د لېوالتیا هرکلي کوو، خو دداسې یو حقوقي چوکاټ د موجودیت پر اړتیا ټینګار کوو، چې ددغو طبیعي شتمنیو ګټو رسیدل د افغانستان خلکو ته په مخامخ توګه تضمین کړی. په داسې حال کې چې خصوصي سکتور،د هیواد د راتلونکې اقتصادي ودې لارښوونه کوي، نړیواله ټولنه، د افغانستان دهغو هلو ځلو نه چې، د یوه شفاف او حسابده حقوقي رژیم چې د نړیوالو منل شویو معیارونو سره برابر وي، د عامه منابعو د مدیریت، او له هغه ډلې نه د طبیعي منابعو د راټولو، هغه هم طبیعیي چاپیریال ته په پام سره، ملاتړ کوي.

۲۴. موږ ، دا څرګندوو، چې پر بازار ولاړ یو هڅوونکی اقتصاد ، په افغانستان کې د سیالی نه ډکو خدماتو د ودې مستلزم او د باثباته مالیاتي جوړښت په ګډون د سیمه ایزو تجارتي او ترانیزیتي لارو د ودې له لارې کیدای شي. نړیواله ټولنه د افغانستان د هغو هڅو پر وړاندې، چې د بنسټیزو جوړښتونو د جوړولو او زیاتوالي او د حقوقي جوړوښتونو اړوند، د سوداګری او ترانزیت د ودې لپاره کوي، ژمنه ده.

۲۵. موږ، پر دې ټینګار کوو، چې د نړیوالو منابعو په ګډون د خصوصي پانګې را جلبول، د افغانستان د اقتصادي ظرفیتونو د فعالولو لپاره بنسټیز لومړیتوبونه لري. د افغانستان حکومت ژمنه کوي چې د نړیوالې پانګې اچولو لپاره، د یوروماینیزم (EUROMINES) په نامه،په بروکسل کې، د نړیوالې پانګې اچوونې، چې د ۲۰۱۱ کال د اکتوبر د شپږویشتمې دجوړې شوې غونډې د سپارښتنو له مخې وه، د پانګې اچونې لپاره لا ښه شرایط برابرکړي.

## سیمه ایزې همکاری

۲۶. موږ په دې باور لرو، چې دبا ثباته او بډای افغانستان، تصور په یوه با ثباته او بډایه سیمه کې کېداي شي. د ملګرتیا او سولې پیرزوینه ،ټولې سیمې ته، تر شخړې او کړکیچ نه خورا ګټوره ده. موږ د افغانستان ، هغه نظر چې رښتیني ستراتیژیکې ګټې یې له لرې او نېږدې ګاونډیانو سره ، د دوه اړخیزو او څو اړخیزو پیاوړو او پایدارو اړیکو په ټینګېدو کې نغښتې دي،تاییدوو. دغه شان اړیکی به د بهرنیو لاس وهنو په کموالي،د ښه ګاونډیتوب د اصولو دپیاوړتیا، خپلواکي او له سیمې سره د افغانستان په اقتصادي نېږدې والی کې مرسته وکړي.

۲۷. موږ د ”د افغانستان لپاره د استانبول کنفرانس: د آسیا په زړه کې امنیت او همکاري“کنفرانس،چې د ۲۰۱۱ کال د نوامبر په دوهمه نیټه د افغانستان په اړه په استانبول کې جوړ شوی وو ، دپایلو هرکلی کو. په تیره بیا د افغانستان دځمکنۍ بشپړتیا، خپلواکۍ، نه لاس وهنې، او د شخړو د سوله ایزحل نظرونه چې د استانبول د بهیر اصلونه دي، دد لا زیات اعتماد جوړونې او د "اسیا زړه" په سیمه کې د همکارۍ لپاره یو ښه ګام ګڼو .په سیمه کې د امنیت دتامین او اعتماد لپاره موږ د استانبول په اسنادو کې د مندرجو اصولو له مخې له افغانستان سره پیاوړې همکارۍ او ملاتړ رابولو. موږ د استانبول د بهیرد دوام لپاره چی د "آسیا زړه" د سیمې په چوکاټ کی غونډې ته، چې ټاکل شوې ده د وزیرانو په کچه د ۲۰۱۲ کال د جون په میاشت کې په کابل کې جوړه شي،سترګې په لاره یو.

۲۸. د افغانستان د اوږدمهالي ودې پس منظر ته په پام سره، موږ ددغه هیواد هغه نظرته چې له مواصلاتي ارتباطي پلوه یو پرمختللې سیمه او اقتصادي نیږدې والي ،چې افغانستان په هغه کې ،دجنوبي،منځنۍ اسیا، یوریشیا او منځني ختیځ تر منځ د یوه سره ترونکي پله بڼه ولري سترګې په لاره یو. موږ،د ، د تاریخي تجارتي لارو، په مسیر کې ،د تجارتي لارو دزیاتیدو ، د سیمې په کچه د افغانستان اقتصادي ظرفیتونو دلوړوالي په خاطر ملاتړ کوو.. په دې لړ کې موږ ، دپایدارو طرحو د چټک سرته رسولو پر بنسټ، چې د سیمه ایزو مواصلاتو د ودې سبب کیږي، لګه د تاپي غازو لیکه ( د ترکمنستان،افغانستان ،پاکستان او هند ترمنځ) او د بریښنا د لېږدولو CASA-1000 ، د ریل پټلۍ او نورې پروژې. په دې برخه کې موږ د ۲۰۱۲ کال د مارچ په میاشت کې،د تاجکستان په مشرۍ ،د دوشنبې په ښار کې د (RECCA) سیمه ایزو اقتصادي همکاریو پنځم جوړیدونکي کنفرانس ته سترګې په لاره یو.

۲۹. موږ د هغه درانه پېټې نه چې د افغانستان ګاونډیو هېوادونو، په تېره بیا پاکستان او ایران، په خپله خاوره کې میلیونونه افغان کډوالو ته د مهاجرت فرصت برابرولو په برخه کې په خپلو اوږو اخیستۍ، خبریو، او دې ته ژمنه لرو چې بیرته افغانستان ته د دوی د داوطلبانه، مصوون او بانظمه را ستنیدو خواوته لا زیات کار وکړو.

# د راتلونکې په لور

۳۰. راتلونکې ته په پام سره، موږ ټینګار کوو، چې د انتقال دغه بهیر چې په ۲۰۱۴ کال کې به پاي ته ورسیږي، باید د تحول له لسیزې سره مل وي،چې دهغه په لړ کې افغانستان خپله بشپړه خپلواکي د یوه پیاوړی او پایدار دولت له لارې چې دخلکو په خدمت کې وي لا پسې ټینګه کړي. د تحول بهیر به ،د افغانستان او نړیوالې ټولنې ترمنځ د ملګرتیا نوې بېلګه وي. په دې ملګرتیا کې به د ملي حاکمیت لرونکی افغانستان، د خپلې راتلونکې د تامین په منظور،د سیمې د سولې او ثبات لپاره ،د یوه مثبت عامل په توګه، له نړیوالې ټولنې سره ،کړه وړه پیل کوي.

۳۱. په نننی غونډه کې افغانستان، د راتلونکې لپاره خپل نظر وړاندې کړ: یوه فعاله او با ثباته دیموکراسي، یو پیاوړی او پایداره دولت چې دخپلو خلکو په خدمت کې وي، او یو مخ پرودې اقتصاد. په داسې سیمه کې چې د رفاه او سولې لپاره مساعده وي د موجودیت او د خپلو نږدې او لرې ګاونډیانو سره د ښو اړیکو د لرلو له لارې ، افغانستان هیله لري چې د نړیوالې سولې او امنیت لپاره مرستندوی و اوسي.

۳۲. د پورتنیو ټکو، عملي کیدو ته په پام سره ،نړیواله ټولنه او افغانستان په رسمي توګه ژمنه کوي چې په ګډه او د مشارکت په روحیې به کار ته دوام ورکړي. افغانستان د حکومت داری د چارو د ښو کولو لپاره خپلې ژمنې بیا تکراروي او له دې سره هممهاله نړیواله ټولنه، تر د ۲۰۱۴ کاله او وروسته تر هغه نه، د خپلې پرله پسې همکاری ژمنه اعلانوي.

۳۳. موږ نن، په بن کې د افغانستان او نړیوالې ټولنې تر منځ ، د ملګرتیا د ژورتیا او پراختیا لپاره د یوې ستراتیژیکې اجماع رسمي اعلان کوو، چې لس کاله مخکې یې د پترزبرګ په ښار کې بنسټ ایښودل شوی و. د تیرو لسو کلنو د ګډو بریاوو پیاوړتیاوو ته په پاملرنې سره پر دې ټینګار کوو چې د افغانستان امنیت او آرامي، لا هماغه شان د ټولې سیمې او دهغه دشا او خوا پر امنیت اغیز کوي.افغانستان او نړیواله ټولنه ،ځان دغې بیا تجدید شوې ملګرتیا ته ، د یو لس کلن پړاو لپاره په غوڅه توګه هوډمن ګڼي.

دا سند د ۲۰۱۱ کال د دسمبر په پنځمه نېټه د لاندنیو هیوادونو له خوا تصویب شو:

د افغانستان اسلامي جمهوریت، د البانیا جمهوري، دالجزایر دیموکراتیک جمهوریت،د ارجنتاین جمهوریت،د ارمنستان جمهوریت،استرالیا،جمهوریت اتریش،د ازربایجان جمهوریت، د بحرین شاهي ،د بنګلادیش د خلکوجمهوریت ،د بلجیم شاهي،بوسنیا ګرسوګووینا،د برازیل فدراتیف جمهوریت ،

بروني دارالسلام،د بلغاريا جمهوريت ،کانادا،د چين دخلکو جمهوريت ،د کولمبيا جمهوريت ،د کروشيا جمهوريت ،د قبرس جمهوريت ،دچک جمهوريت ،د دنمارک شاهي،د مصر جمهوريت ،د سلوادور جمهوريت ،د اسونياجمهوريت ، دفنلند جمهوريت ،د گرجستان جمهوريت ،د جرمني فدرال جمهوريت ، يونان، د هنگري جمهوريت ،د ايسلندجمهوريت ، د هند جمهوريت ،د اندونيزيا جمهوريت ،د ايران اسلامي جمهوريت، دعراق جمهوريت ،ايرلند،د ايتاليا جمهوريت ،جاپان،د هاشمي اردن شاهی ،د قزاقستان جمهوريت ،د کوريا جمهوريت ،کويت،د قرغزستان جمهوريت ، د لاتويا جمهوريت ،د لبنان جمهوريت ،د فلسطين خود مختار ،د ليوانيا جمهوريت ، لوکزامبورگ،مقدونيا جمهوريت ،د مالتا جمهوريت ،مکسيکو، منگوليا، منتنيگرو،د مراکش شاهي ،د هالند جمهوريت ،نيوزيلند،دناروي شاهي،د همان سلطنت،د فليپين جمهو ري ،د پولند جمهوريت ، د پرتگال جمهوريت، قطر، رومانيا، د روسيې فدراتيف جمهوريت ، د سعودي عربستان شاهي دولت، د سلواک جمهوريت ، د سلوانيا جمهوريت، د جنوبي افريقا جمهوريت ،د هسپانيا شاهي، د سويدن شاهي، دسويس کنفيدريسيون، د تاجکستان جمهوريت ،د تايلند شاهي، د اندونيزيا جمهوريت، د ترکيې جمهوريت ،د ترکمنستان جمهوريت ،اوکراين، يوروگوای جمهوريت، بريتانيا،عربي متحده امارات، د امريکا متحده ايالات، دازبکستان جمهوريت، د ويتنام سوسيالستي جمهوريت، د آغا خان پرمختيايي شبکه، آسيايي پرمختيايي بانک، په آسيا کې د تعامل او اعتماد جوړونې د تدابيرو کنفرانس (سيکا)، د ډله ايزې دفاع سازمان، د اقتصادی همکاری سازمان (ايکو)، د اسلامی پراختيا بانک، د شمالی اتلانتيک سازمان (ناتو)، د اسلامی همکاری سازمان، د اروپا د امنيت او همکاری سازمان، د جنوبی آسيا د سيمه ايزو همکاريو سازمان (سارک)، د شانگهای د همکاريو سازمان، ملگري ملتونه ، او نړيوال بانک.